مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوځ مرادزی

۲۰۲۰ / ۱۰ / ۱۱

# ازادي

هرڅوک خپل بار به پخپله تر منزل وړي
هیڅوک نه دی مکلف چي بار د بل وړي
د موسی او د عیسی لارې جلا دي
که ګنا ده که ثواب دی هرڅوک خپل وړي
هیڅوک نه ځملي د بل سرې لحد کي
هر څوک خپله کارنامه د خپل عمل وړي
خپل عمل د لارې مل او د ژوند مل دی
په عبثه، څوک تقدیر ور سره مل وړي
هر څوک خپله لاره ښه ویني تر نورو
که تیاره وه بیا به لاره کي مشعل وړي
لاره مه نیسه د نورو پخپل لار ځه
ژوندون هر څوک پخپل هوډ او په تکل وړي
هلکان که پګړۍ ول کي کشمالي ږدي
نجونه پریږده چي ګلونه په اوربل وړي
څوک طلا، څوک به الماس وړي په ډالی کي
شاعر پریږده چي ډالی کي خپل غزل وړي
ملا پریږده غرغړو ته په مسجد کي
ساقي پریږده چي جامونه تر محفل وړي
ازادي د بل انسان لورنه، نه ده
ازادی انسان له پیله له ازل وړي
ازادي د مره او کونګ طبیعت سا ده
ازادي تولنه مخکي پل په پل وړي
زړه مي مینه کي بایللی له پخوا دی
لا مي مینه زړه، په حال او مستقبل وړي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ